# د افغانستان اسلامي جمهوریت
# د کابینې مصوبه
## (۱۱) ګڼه
## نیټه ۱۳۹۹/۴/۹

د افغانستان اسلامي جمهوریت ... د ریاست جمهوري اداري امور
Administrative Office of the President

د افغانستان اسلامي جمهوریت د ۱۳۹۹ کال کابینې یوولسمه غونډه د جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني په مشرۍ د چنګاښ میاشتې په (۹) نېټه د دوشنبې په ورځ له غرمې مخکې د کابینې غړو او والیانو په ګډون د ویډیویي کنفرانس له لارې په ارګ کې جوړه او دغه پرېکړې یې وکړې.

**جلالتمآب ولسمشر پیلیزې خبرې او له اجنډا مخکې ځینې مهمې موضوع ګانې:**

- په څارنوالانو او افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په کارکوونکو د وروستي ترهګریز برید غندنه او د موضوع څېړلو ترڅنګ د عدلي او قضایي بنسټونو، بشري حقونو او مدني فعالانو د امنیت ټینګښت په اړه کورنیو چارو وزارت ته دنده سپارل؛
- د کرونا وېروس غیر رسمي پېښو شمېر په اړوند د عامې روغتیا وزارت له مسؤلینو سره د ناستې په اړه د معلوماتو وړاندې کول او په کرونا وېروس د اخته کسانو غیر رسمي شمېر کره کیدو په موخه د مطالعې او څیړنې غوښتنه؛
- کابینې غونډې کې د ګډون له امله د سیمه ییزو ارګانونو اداري لوی رئیس ښاغلي شمیم خان کتوازي ته ښه راغلاست ویل؛
- د هیواد په بنسټیزو بنسټونو پانګه اچونې ته اشاره او د بهرنیو چارو وزارت له سرپرست او نوماند وزیر او د صنعت او سوداګرۍ وزارت له پخواني سرپرست څخه د غلام خان، سپین بولدک او تورخم بندرونو د بیا خلاصولو په اړه د اخیستل شویو ګامونه له امله مننه او په دې بندرونو کې د سوداګرو ستونزو حل لپاره د وړاندیزونه وړاندې کولو په موخه اړونده بنسټونو او ولایتي مسؤلینو ته دنده سپارل؛
- د هیواد په ګمرکونو او بندرونو کې د امنیتي کمرو لګولو په موخه د اخیستلو شویو ګامونو او نوښتونو له امله د مالیې وزارت له سرپرست او نوماند وزیر څخه مننه کول؛
- د پاسپورټونو ویش په موخه د افغانستان پُستي خدمتونو په اداره کې د شته ظرفیتونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول او د پاسپورټ ویشلو بهیر چټکتیا او په همدې برخه کې د ستونزو حل په موخه اړونده بنسټونو ته دنده سپارل؛
- د کرونا وېروس سره د مبارزې په موخه د ځانګړې شوې بودجې څخه د ناوړه ګټې اخیستنې شکایتونو څیړنې په موخه د پلټنې ادارې ته د حکم ورکولو په هکله د معلوماتو وړاندې کول؛
- د تشکیلاتي پړسوب او موازي ادارو مخنیوي په موخه د دولتي ادارو تشکیلاتو ارزونې په اړه اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون ته دنده سپارل؛
- د هرات، خوست او جلال آباد ښارونو د چوکاټي پلانونو بشپړوالی او د مزارشریف او کندهار ښارونو د لومړنیو پلانونو جوړولو او نهایي کولو په موخه د اخیستل شویو ګامونو په اړه د معلوماتو وړاندې کول او ددې چوکاټ معیارونو پربنسټ د هېواد د نورو ښارونو پلانونو جوړولو په موخه د ښار جوړولو او ځمکو وزارت ته دنده سپارل؛
- د جمهوري ریاست عامه او ستراتیژیکو اړیکو اداري ته د کرونا وېروس خپریدو څخه د مخنیوي او ځان ساتنې عامه اړیکو دولتي کمېټې رهبري مسؤلیت ورکول او په هېواد کې د کرونا وېروس اوسني حالت په اړه د عامه پوهاوي پیاوړتیا وړاندیزونو وړاندې کولو په موخه یادې کمیټې ته دنده سپارل؛
- ښځو چارو وزارت ته په ځانګړې توګه په یاده اداره کې د سلنې او بست په تفکیک د ښځو شمېر، په تیرو پنځو کلونو کې د ښځو لپاره د پرمختیایي پروګرامونو څرنګوالي، ښځو لپاره د ځانګړې شوې پرمختیایي اختیاري او غیر اختیاري بودجې څرنګوالی، د ښځو ګډون، پیاوړتیا، او د ښځو لپاره آسانتیاوو رامنځته کولو په موخه د ادارې ځانګړې نوښت معلوماتو وړاندې کولو په اړه وزارتونو او دولتي ادارو ته دنده سپارل؛

**د اجنډا لومړی موضوع:** په هیواد کې د کرونا ویروس وضعیت څرنګوالي په اړه لنډ راپور او له کرونا سره د مبارزې حالت، په روغتونونو کې د حالت بنستیز بدلون څرنګوالي، د روغتیا پروګرام او وړاندې کولو څرنګوالی او په کرونا ویروس د اخته ناروغانو لپاره د شته روغتیایي مرکزونو ظرفیت او د ګوښه ساتنې مرکزونو اړتیا په اړوند د ا.ا.ج کابینې د ۱۳۹۹کال (۵) ګڼې مصوبې د (۱۲-۶)او (۱۲-۷) فقرو پلي کیدو څرنګوالي په اړه د عامې روغتیا وزارت راپور؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عامې روغتیا وزارت نوماند او سرپرست وزیر؛

| د کابینې پرېکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۱-۱ | د سیمه ییزو ارګانونو ادارې ته دنده سپارل کیږي، چې د یوې اوونۍ په موده کې د روغو شویو او مړه شویو کسانو شمېر په یادولو سره په کرونا ویروس د اخته کسانو او د کرونا ویروس له امله د ولایتونو حالت څرنګوالي په اړه غیر رسمي شمېر راټول او راپور دې عامې روغتیا وزارت ته واستوي. | یوه اوونۍ |
| ۱-۲ | د عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د حکومت د رهبري غونډې له لاروښوونې سره سم په کرونا ویروس د اخته کسانو کره او روښانه شمېر د دې مصوبې د(۱-۱) بند لارښوونې ته په کتو له ولایتونو څخه د ترلاسه شویو شمېرو سره مل د روغو شویو او مړه شویو کسانو شمېر په یادولو سره چمتو او د کابینې بلې غونډې ته دې وړاندې کړي. | دوه اوونۍ |
| ۱-۳ | عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د کرونا ویروس خپریدو څخه د مخنیوي بیړنۍ کمیټې کې له بحث او تصمیم نیونې وروسته د کرونا ویروس سره د مبارزې په اړوند د یاد وزارت جوړو شویو تګلارو پلي کیدو څرنګوالي راپور د روغتیا ملي پروګرام باندې د هر اړخیز غور کولو په موخه دې د حکومت رهبري غونډې ته وړاندې کړي. | دوه اوونۍ |
| ۱-۴ | ا.ا.ج کابینې د جمهوري ریاست عامه او ستراتیژیکو اړیکو ادارې ته د کرونا ویروس خپریدو څخه د مخنیوي او ځان ساتنې عامه اړیکو دولتي کمیټې رهبري مسؤلیت وسپاره او یادې کمیټې ته یې دنده وسپارله، چې په هیواد کې د کرونا ویروس اوسني حالت ته په کتو د پوهاوي د پیاوړتیا په موخه هر اړخیزه طرحه جوړه او له خپلوکره وړاندیزونو سره یوځای دې د حکومت رهبري غونډې ته وړاندې کړي. | دوه اوونۍ |
| ۱-۵ | د سیمه ییزو ارګانونو ادارې ته دنده سپارل کیږي، چې د زونونو په بنسټ د سرچینو تخصیص،عادلانه ویش او د همغږۍ رامنځته کولو څرنګوالي په اړه د والیانو نظرونه را ټول او سره یو کړي؛ د مالیې او عامې روغتیا وزیرانو په ګډون کمیټه کې یې د جمهوري ریاست دویم مرستیال تر نظر لاندې نهایي او پایلې دې له کره وړاندیزونو سره یو ځای د حکومت رهبري غونډې ته وړاندې کړي. | دوه اوونۍ |
| ۱-۶ | د جمهوري ریاست چارو ادارې لوی ریاست ته دنده سپارل کیږي،چې د قراردادونو د روڼتیا په اړه د جان هاپکنز(John Hopkins) پوهنتون مقالې لنډیز ژباړه چمتو او د مطالعې او ګټو څخه د برخمن کیدو په موخه دې عامې روغتیا وزارت او نورو اړونده ادارو ته واستوي. | درې اوونۍ |
| ۱-۷ | عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي ترڅو د روغتیا په برخه کې د نړیوالو مرسته کوونکو بنسټونو د بشري سرچینو وړتیاوې او د خدمتونو وړاندې کولو ډول مطالعه او پایلې دې له کره وړاندیزونو سره مل د حکومت رهبري غونډې ته وړاندې کړي. | یوه میاشت |

**د اجنډا دویمه موضوع:** د وحشي حیواناتو د ساتنې او ښکار تنظیم قانون طرحه؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عدلیې وزارت مالي او اداري مرستیال؛

**موخې:** د وحشي ژویو ساتنې، ملاتړ او نسل ډولونو پاینښت او له هغو څخه تلپاتې ګټه اخیستنه؛ د وحشي ژویو د نسل ډولونو له منځه تللو څخه مخنیوی، د وحشي ژویو د ساتنې لپاره د خلکو ګډون او مرستې د روحیې دودولو او د وحشي ژویو د ښکار تنظیم؛

| د کابینې پرېکړه | | موده |
|---|---|---|
| ۲ | د افغانستان د اسلامي جمهوریت کابینې په هېواد کې راتلونکو پنځه کلونو لپاره د وحشي حیواناتو بشپړې ساتنې او د ژویو د ژوندانه خوندي ساتلو ځای په موخه په بشپړه توګه د | یوه میاشت |

| د کابینې پرېکړه | موده |
|---|---|
| ښکار پر نه کولو ټینګار ترڅنګ د وحشي ژویو د ساتنې او ښکار تنظیم قانون طرحه تائید نه کړه؛ د عدلیې وزارت ته یې دنده وسپارله، چې د اړوندو ادارو په مرسته یاده طرحه ښکار پورې اړونده حکمونو پر لیرې کولو(حذفولو) سره تر بیا کتنې لاندې ونیسي او د کابینې نورو غونډو ته دې وړاندې کړي. | |

**د اجنډا درېیمه موضوع:** د پوهنتونونو د مالي خپلواکیتوب مقررې د ځینو مادو تعدیل طرحه؛
**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عدلیې وزارت مالي او اداري مرستیال ؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۳ | د پوهنتونو د مالي خپلواکیتوب طرحه تصویب وړ ونه ګرځېدله،عدلیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د جمهوري ریاست چارو ادارې لوی ریاست په مرسته یاده طرحه د مالیې ،لوړو زده کړو وزیرانو او کابل پوهنتون رئیس په ګډون د جمهوري ریاست دویم مرستیال تر نظر لاندې د ( دولتي شرکتونو رامنځته کولو په څیر) د پوهنتونونو پرځان بسیاینې او مالي خپلواکیتوب ټینګښت په اړه غور وکړي؛ قانوني حل لارې یې ولټوي او طرحه د جمهوري ریاست لوړ مقام ته له وړاندې کولو وروسته د کابینې غونډې ته وړاندې کړي. | دوه اوونۍ |

**د اجنډا څلورمه موضوع:** د هیواد د نورو والیانو په استازیتوب د کندهار والي په خبرو او وړاندیزونو تصمیم نیول؛
**وړاندې کوونکی:** ښاغلی حیات الله حیات د کندهار والي؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۴-۱ | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون ته دنده سپارل کیږي، چې د وزارتونو او والیانو په مرسته، د قوانینو او مقرراتو په پام کې نیولو سره په ولایتونو کې د چارو ځنډ مخنیوي په موخه د ولایتي مسؤلینو ادلون او بدلون شرایطو څرنګوالي روښانه میکانیزم جوړ او د حکومت رهبري غونډې ته دې وړاندې کړي. | یوه میاشت |
| ۴-۲ | د سیمه ییزو ارګانونو ادارې ته دنده سپارل کیږي، چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون په مرسته د ولایتي مسؤلینو،د امنیې قوماندانانو په ګډون د دولتي بنسټونو سوبتیا (حاضري) په اړه مناسبې لارې او همدارنګه په هرو شپږو میاشتو کې د یادو مسؤلینو د کاري اغیزمنتیا ارزونې څرنګوالي او په هغه کې د والیانو نقش ته په کتو سره چمتو او پلي کړي. | یوه میاشت |
| ۴-۳ | د مالیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د ښارونو پرمختیایي پروژو پرمخبیولو په موخه د ښاروالیو ښاري خدمتونو څخه د را ټولې شوې مالیې لیږد د مخکنیو کلونو ټاکل شوي منځني معیارپر بنسټ د سلنې( فیصدۍ) ټاکلو په اړه ګامونه واخلي. | دوه اوونۍ |
| ۴-۴ | د سیمه ییزو ارګانونو ادارې ته دنده سپارل کیږي، چې د والیانو په مرسته د هغه شمېر ولایتي پروژو لړلیک(فهرست)، چې کار یې بشپړ شوی؛ مګر پیسې یې نه دي ورکړل شوې، را وغواړي او له اړوندو ادارو سره په همغږۍ یې توحید او نهایي کړي او له کره وړاندیزونو سره مل دې د جمهوري ریاست لوړ مقام ته د وړاندې کولو په موخه د جمهوري ریاست چارو ادارې لوی ریاست ته واستوي. | یوه میاشت |
| ۴-۵ | وزراتونو او دولتي ادارو ته دنده سپارل کیږي، چې د خپلو پروژو او قرادادونو لړلیک له شرطونو او ځانګړنو سره یو ځای د اړونده ویبپاڼو له لارې خپور او تل یې د هیوادوالو په واک کې ورکړي. | دوامدار |

**د اجنډا پنځمه موضوع:** د واټ ترافیکو کنوانسیون او د لارو نښو کنوانسیون؛
**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د بهرنیو چارو وزارت سرپرست او نوماند وزیر؛

| | **د کابینې پریکړه :** | موده |
|---|---|---|
| ۱-۵ | د واټ ترافیکـو کنوانسـیون او دلارو نښـو کنوانسـیون تائیـد دي، د بهرنیـو چـارو وزارت تـه دنـده سـپارل کیـږي، چـې د کلمـو سمونې،عباراتو ،ملي اصـطلاحاتو او جملـه بنـدی تـه پـه کتـو د یـادو کنوانسیونونو ژباړه سمه او د پړاوونو تیرولو په اړه یې ګامونه واخلي. | دوه اوونی |
| ۲-۵ | ټرانسـپورټ وزارت تـه دنـده سـپارل کیـږي، چـې د واټ ترافیکـو کنوانسـیون او دلارو نښـو کنوانسـیون د عمـل پـلان چمتـو او د اوبـو،ځمکې او ښـاري پراختیـا عـالي شـورا ته دې وړاندې کړي. | یوه میاشت |
| ۳-۵ | ټرانسـپورټ وزارت تـه دنـده سـپارل کیـږي، چـې د واټ ترافیکـو کنوانسـیون او دلارو نښـو کنوانسـیون سره د سمون او د ټکرونو لـه منځـه وړلـو پـه موخـه د اړونـدو تقنیني سندونو د تعدیل طرحه چمتو او له پړاونو یې تیره کړي. | یوه میاشت |

**شپږمه موضوع:** په مرکز او ولایتونو کې د ښځو د پرمختیایي پروګرامونو ارزونه؛
وړاندې کونکي: آغلې د ښځو چارو سرپرسته او نوماند وزیره؛

| | **د کابینې پریکړه :** | موده |
|---|---|---|
| ٦ | وزراتونو او دولتـي ادارو تـه دنده سپارل کیږي، چې ښځو چارو وزارت ته په ځانګـړي توګـه پـه یـاده اداره کـې د سلنې او بست پـه تفکیک د ښځو شمېر، پـه تیرو پنځـو کلونـو کـې د ښځو لپاره د پرمختیـایي پروګرامونـو څرنګـوالي، ښځو لپاره د ځانګـړې شوې پرمختیـایي اختیـاري او غیـر اختیـاري بـودجې څرنګـوالی، د ښځو ګـډون، پیاوړتیا، او د ښځو لپـاره آسانتیاوو رامنځتـه کولـو پـه موخـه د اداري ځانګـړي نوښت معلومـاتو هـر اړخیـز لړلیـک لیـږي او د ښځو چـارو وزارت پـه دې اړونـد هـر اړخیـزه طرحـه چمتـو او د جمهـوري ریاسـت لـوړ مقـام تـه دې وړانـدې کړي. | دری اوونی |

**اوومه موضوع:** بیلابیلې پریکړې:

| | **د کابینې پریکړه :** | موده |
|---|---|---|
| ۱-۷ | د کورنیـو چـارو وزارت او مـلي امنیـت لـوی ریاسـت تـه دنـده سـپارل کیـږي، چـې د عالمـانو د امنیـت ټینګښـت پـه خیـر د عـدلي او قضـایي بنسټونو،بشـري حقونـو او مـدني فعـالانو امنیـت د ټینګولـو پـه برخـه کـې دې ورتـه ګـامونـه واخـلي او دغـه چـاره دې د خپلو کاري لومړیتوبونو برخه وګرځوي. | - |
| ۲-۷ | د صـنعت او سـوداګـری وزارت تـه دنـده سـپارل کیـږي، چـې د مـالیې وزارت او د والیـانو پـه مرسته د هیواد په بندرونو کې د سوداګرو ستونزې په ځانګړې توګه تورخم، سپین بولدک او غـلام خان بندرونو کې پـه هـر اړخیـز ډول څیړي او پایلې دې لـه وړاندیزو نـو سره مل د حکومت رهبري غونډې ته وړاندې کړي. | یوه میاشت |
| ۳-۷ | د بهرنیـو او کورنیـو چـارو وزارتونـو تـه دنـده سـپارل کیـږي، چـې د هیـواد اتبـاعو تـه پـه کـور دننـه او بهـر کـې د پاسـپورټونو د ویـش لـړۍ چټکـه او پـه دې برخـه کـې د شـته سـتونزو د هـوارې پـه موخـه د افغانسـتان پُسـتي خـدمتونو ادارې لـه ظرفیتونـو او وړتیـاوو څخه دګټې اخیستنې سره ګامونه واخلي. | - |
| ۴-۷ | د مـالیې وزارت تـه دنـده سـپارل کیـږي، چـې د جینـوا مخکینـي کنفـرانس (۱۱) پـاتې ژمنـو لړلیـک اړونـدو وزارتونـو او ادارو سره شریـک کـړي او اړونـده وزارتونـو او ادارو تـه دنـده سـپارل | عاجل |

| د کابينې پريکړه : | | موده |
|---|---|---|
| | کيږي، چې د خپلو کړنو څرنګوالی راپور په چټک ډول چمتو او ماليې وزارت ته دې واستوي. | |
| ۵-۷ | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون ته دنده سپارل کيږي، چې له وزارتونو او دولتي بنسټونو سره په پوهاوي؛ د دولتي بنسټونو تشکيلاتي پړسوب، موازي ادارو شتون څخه مخنيوي او په تشو بستونو کې د نه ګمارنې څرنګوالی و ارزوي؛ د قرار دادي او باالمقطع مشاورينو او کارکوونکو شمېر له راپور سره يوځای دې د حکومت رهبري غونډې ته وړاندې کړي. | دوه مياشتې |
| ۶-۷ | د ځمکو او ښار جوړولو وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې د هېواد د ښارونو پلانونه د هرات، خوست او جلال آباد ښارونو په چوکاټې پلانونو کې د وضع شويو معيارونو پر بنسټ چمتو او د اوبو،ځمکو او ښاري پراختيا عالي شورا ته دې وړاندې کړي. | درې مياشتې |
| ۷-۷ | په پارلماني چارو کې د دولت وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې له ملي شورا څخه غوښتنه وکړي؛ ترڅو د دوشنبې په ورځو کې ،چې د ا.ا.ج. کابينې غونډه تر سره کيږي، وزيرانو او دولتي چارواکو ته بلنه ورنه کړي. | - |

- د مصوبې پلي کېدو څخه څارنه د جمهوري رياست چارو اداري لوی رياست د کابينې چارو سمون رياست په غاړه ده.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**